# دبخت الله ربنتين شعرونه

يوځاي کونکی

ترتيب کونکي

او وړاندي کونکي

تاج محمد مبين

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب په اړه

په دغه کتاب کي دځوان او خوږ ژبې شاعر بخت الله ربنتين نوي او
په زړه پوري بيتونه دتاج محمد مبين له لوري جمعه شوي او تاسو
ته وړاندي شوي هيله ده دخوښي وړ مو وګرځي!

په درنښت تاج محمد مبين

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلیت پکې د هر سړي معلوم شي

زه د بدو ورځو ځکه مینوال یم

راته ووایه تنها وي او که نه وي
د یارانو ورځ دې ځنګه وه ریښتیه

وه زړه تنګونه دا ته څه رقم ته لوبې کوې
حیران یم غلی چرته کینم که نارې وکړم

چې زنګ وهې اعلان مې واورې درنه لار ورکه شي
زور به بې وګوري چي بندي شماري څه معنا

په زخمونو باندې مالګې دوړول دي
د یارانو دوکې نه شمارم ربنتینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه باران چې ستا له لورې د سپرلي راشي
خدايه هغه تللی دې داسې ناڅاپي راشي

څه ته لګيا يې څه به لاس ته راوړې وه رښتينه
بې له مطلبه هيڅوک نه پالـــي اړيـکې دلته

په موبيل مې څه نا څه مينه ماتيږي
ستا پنځه زره عکسونه راسره دي

د پاڼې حال څه وي ږلئ کې بيا له باد وروسته
دومره خراب شمه لاليه ستا له ياد وروسته

زه خپه کيږمه بيا زر ژاړمه
د رابطو په اړه ما غږيږه

د خالي جيبونو زيان دا دی رښتينه!
د يارانو له کمښت سره به مخ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځه به هره ورځ زوریږي څه به ژاړي
دا رښتین دې خدای له دغي دنیا واخلي.

خپلو خبرو ته په خپله خاندم
په خاموشۍ باندې ملنډې وهم

بل څه به ووایو که خوښه دې وي غم پریږده
زه ترې ډاریږمه کیسې د بنیادم پریږده

دوه مخو خلکو سره هیڅ رابطې مه ټینګوه
مخکې لدینه چې تا پریږدي ته یې هم پریږده

مطلب پرسته جنازه کې مې خاضر ولې یې
تمثیل دې ودروه وخانده ماتم پریږده

زړه کې دې مینه د الله ج او د رسول وساته
برباد به نشې خو بس مینه د رقم پریږده

یو خو چې ته رښتینه راشې نو همدا کیسې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای لپاره بل څهووایه صنم پرېږده

بخت الله ربنتین

یاران بې شماره وو ربنتینه خو کښتي راغله
دا سخته ورځ هم یو څه ډېره نا څاپي راغله

زه پوهیدمه چـــې ناز ښــه نــه وي ګناه یې وکړه
یو څــوک مې غیـرږه کـــې نیولی وو هوا یې وکړه

یاران دې ولیدل چې سخته کې یې څنګه پرېښوم
یـاران دې ولـیـدل چـــــــې څـنـګـه ناروا یې وکړه

زه دې مړ شمه ربنتینه پروا نشته
احسان نه غواړم په ځان د انسانانو

زړګیه ښکلو پسي ما خوږېږه
مصیبتونه راته ولي ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللي خلک ولې راغلل؟ خو ځا خير
شايد خپل ضرورتونه ورپه زړه وي

پيره مشکل به دې اسان شي خو خبره واوره
هر څه له رب غواړه خو تمـه له انسان مـکوه

اکثريت خلک تمثيل کوي خو مړه وي
فکر نه کوم چې څوک خاندي او ښه وي

تللي خلک ولې راغلل؟ خو ځا خير
شايد خپل ضرورتونه ورپه زړه وي

په اتڼ کې ښه بيشماره وي ګډيږي
خو په سخته کې رښتينه ياران نه وي

د پخوا زمانې هر څه زبردست وو
که ياران وو که شيان وو که سندرې

ستا په مينه کې تير شوی له ژوندون يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## که مجنون نه یم خو تره زوی د مجنون یم

بخت الله رښتين

نه مې غواړي مصبته زه خبر يم
د يارانو له قيمته زه خبر يم

بدې ورځې دي غږ. نه کومه چاته
نه راځي څوک ضرورته زه خبر يم

د دونيا سره پيدا شولې عبس يې
پاتې کيږي محبته زه خبر يم

مخامخ درته قربان وروسته کنځلې
د دوه مخو له صفته زه خبر يم

د نفرتونو کاروبار وتړئ
وه مجاهد ملته مينه وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه شلیدلي ګریوانونه ستن او تار نه لري
زمونږه دومره ارمانونه دي چې شمار نه لري

دا چې د هر چا مسلو کې پیره ګوتې وهي
دا اوزګارخیل خلک اوزګار دي او بل کار نه لري

ښکلیه نازونه کوه ښه یې کوه ډېر یې کوه
بدرنګ دې غلي کیني ځکه چې بازار نه لري

دا نو خبره ده چې ته یې کوې وه سړیه
دا درته چا ویل چې مینه وې او دار نه لري

رب خو د ژوند مکتب ته راوستو په وار رښتینه
خو شاګردان د داسې صنف یو چې قطار نلري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به مري څوک به لاس نه درکوي تاته
خدای دې ما مختاجوه رښتينه چاته

زړه تنګون ته ورکومه ياره ماته
غواړم سمې چغې ووهم هوا ته

ته چې لاړ شې غم به پټ کړمه لاليه
تمثيلونه به شروع کړمه دونيا ته

ته چې نه يې نو په نورو خلکو څه کړم
ړوند اړتيا نلري وه ياره رڼا ته

نشته نشته نه بيخي نشته تنها يم
تسلي به راکړي څوک رښتينه ماته

بخت الله رښتين

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړی شوی يمه نور له دغه کاره
بيا به هيچاته ونه وايم چې ياره

دا چې جنګ ته خوشحاليږي سړي نه دي
خدايه زه وځم د دغو له قطاره

عبادت دې د رياء لپاره وکړ
بې عقلي دې ولې وکړله هوښياره

دا چې سوال مو نه قبليږي وجه دا ده
ته خپه يې رانه ډېر پروردګاره

ځه مې ګنې هيلې وړې وې مخلوقه
سخت خالي لاسونه راغلم له بازاره

خلک ګوره موءمينان وژني رښتينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه خوښي اخستی نشم له کفاره

بخت الله ربښتين

ته ساده يې ته يې کله پيژنې رنګ
يو رقم نه وي هر وخت د زمانې رنګ

ته مې خوا کې يې لااليه بل رقم يم
راته سپين ښکاري د تکې تورې شپې رنګ

دغه خلک په وطن اسلام مين ول
تور سور شين دې شي ددغې هديرې رنګ

چې ښکاره ورته اظهار د مينې وکړم
تغيريږي به ختمن بيا د هغې رنګ

وه راتلونکيه کاله تاته انتظار يم
نه پوهيږمه چې ته به کوم راوړې رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونزه دا ده چې ذهنونه نه بدلیږي
ستونزه دا نه ده چې بل شي د جنډې رنګ ☟

ته خو لاړ شه د رښتین کار ته بیا ګوره
اې په وینو به بدل کړم د کوټې رنګ

دا نصیحت درسره ټول واورئ او ویې منئ
چغې به بندې وي زما د جنازې په وخت کې

کال بدل شو ښه نو څه ګټه یې وکړه
له تر اوسه مو رښتینه زړونه زنګ دي

چې په څنګ کښې دې لالے نه وي تنها یې
څوک به څه کوي څلویښت میلونه خلک

په بربادۍ به دې اتڼ وکړمه
غمه حیران به دې کم صبر وکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څڼې وشړه راوشړه رش جوړکه!
د عطرین موسم هوا ته مې زړه کیږي!

په ځوانی کې رانه ساه واخله چې مړ شم
دومره درد راباندې ما ګوره خالقه

د جمعې شپه ده جناب یې خپله اوري
په درودو باندې یې ولمانځئ مخلوقه

بې غرضه بې مطلبه بې له ګټې
بیخي نه پالي رښتینه رابطې څوک

ګیله به څنګه راته نه دریږي وه رښتینه
څومره ډېر خلک و یوه سړي درک نکړم

زه شکایت خدای ته کومه خو له چا یې وکړم
ټولې دونیا زما په زړه ملنډې ووهلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ځکه تنها شوی یم رښتینه
رابطې په کاغذونو پالل کیږي

عجیبه دا ده نا خبره ترې هغه هم ده
رښتین مړ شوی دی سبا یې جنازه هم ده

ته به مړ کیږي مګر دوی به دې جیبونه ګوري
دومره ذلیله دومره سپکه زمانه هم ده

ستا په خیر سل که رانه نور لاړ شي بلا ورپسې
تغیر به نه شم زما دومره حوصله هم ده....

یاران ماران یې په ما وپیژندل
له مجبوریت څخه نړۍ مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتين ښار کې په اتيا ښکلو مين دی
عاشقي يې په شرمو وشرموله😍

دا چې تنها يې نو رښتينه ملامته ته يې
ولې دې هيلې په نامردو پسې وتړلې

دلته معنه نلري وه رښتينه
ګور ته به يوسمه تمامې هيلې

هغه وپوښتل چې څنګه يې رښتينه
ما وې ښه يم مرګ ته شپې سبا کوومه

زړه تنګون ته تيرې زړونه تسليميږي
خدای د وساتي هر څوک لدې عذابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا ته ووایئ چې هیڅوک دې هم نه خبروي
زما د قبر مراسیم دې په ماښام وکړي

د ښار ښکلو شکایت در څخه کړی
وه رښتینه بیا دې څه ګلان کرلي

رحمتونه پرې بې شماره نازلیږي
څوک چې درود په نازولي جانان وایي

زړه تنګون و تنهایي وه خاموشي وه
د زاړه کال مې همدا انډیولان وو

جهنمیان دي خدای یې هیڅ نه ښني
څوک چې د چا په زړه ملنډې وهي

څه مو لوی لوی امیدونه ترې لرل
څه واړه واړه نیتونه و د خلکو

یتیم نارې وهي په نس وږی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره یو وګړی هر یو کس وږی دی

ستا د نظام مخالفت نه کوو
خو غریبي راغله ولس وږی دی

ابادي مې ځانته غوښته خو ازار شوم
زه د خپلو بربادیو زیموار شوم

تا اویا کتابه ولوستل ویده شوې
ما چې لږې دوکې وخوړې اوښیار شوم

ډاکټران مې هغه وخت ځانته حیران کړل
چې د خوب ګولۍ مې وخوړې بیدار شوم

ته دې خپله حوصله ساته رښتینه
زمانه به خامخه بدلوي سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلو ته لار نیول سترګکې وهل
رښتینه دا بې ادبي زنداباد

زړه تنګون رښتینه دا رقم ته کړم چې
په وړه خبره زړه خورمه او ژاړم

ته ساده یې ته یې کله پیژنې رنګ
یو رقم نه وي هر وخت د زمانې رنګ

تمثیلونه پکې وکړو خندا وکړو
رښتیا مه ګڼه رښتینه د عکسو حال

انسان بې وسه دی عاجز دې اوسي
که تکبر کوي نو نه دې کوي

که دولس سره دوی مینه کوي
تمثیل به نه کوي له زړه دې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې جنت غواړي نو زر تر زره
د انسانانو سره ښه دې ☟

رښتینه ستا یاران مطلب ته ګوري
چې ضرورت یې نه وي څه دې کوي!

زړونه دې وګټي ښکاره دې محبت ومني
دوی به پرې ګران شي که غوښتنې د ملت ومني

ټول افغانان یو د بیرغ لانجه دې ختمه کړي نو
له دوی مو هیله ده چې دا ملي هویت ومني

یاره چې هر څه وایي ما پسې هیڅ نشته مشکل
رښتین به ستا ټول غیبتونه په صفت ومني

توره شپه ده ارمانونه مې سنسار کړل
په غورځیو مې ویده خلک بیدار کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په مثال لکه د وچې پاڼې
غم لکه باد خاضر شو ورژيدم

ما چې وګورې ملنګ به در په زړه شې
د زړې اوسپنې زنګ به در په زړه شي

په کوم ځاى کې چې نامه د پښتون واورې
بس خفه به شي او جنګ به در په زړه شي

له دوکې وروسته که ودې ليدل ښکلي
نو هغه زړونه بدرنګ به در په زړه شي

د لالي د ځنو بوى که دې لږ حس کړو
دا مې ومنه لونګ به در په زړه شي

که چا چيرته د ښايست خبره وکړه
بس رښتينه غنمرنګ به در په زړه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتين

چا مجلس کې د ښايست خبره وکړه
زما لوی افغانستان ذهن ته راغلو

تا د ګل نامه بار بار ولې اخيسته
ماته ځکه خپل جانان ذهن ته راغلو

دوی په ځمکو جيدادونو باندې جنګ و
نو ربښتينه قبرستان ذهن ته راغلو

ربښتين

زما په غم باندي خوشحاله دي ازغي راکوي
ځيني ياران په ميسيجو کي تسلي راکوي

چې نه راځي انتظار ولې کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د سپرلي انتظار ولې کوې

رښتيا کيسه وکړه چې نه راځمه
په ما چټي انتظار ولې کوې

رښتينه هر څوک بيرته نه راګرځي
د هر سړي انتظار ولې کوې

ټولو لفظونو ته يې بايد اخترام وشي
شاعران درد لري په دغو دې لږ پام وشي

له هر يو درد سره به زه خداى په اماني وکړمه
خوند به ډېر وکړي چې د ژوند مې اختتام وشي

رښتين

ماهم درته واخستل په قرض ګولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

درده بچیش اوس به دي زور وګورم

لکه غمجنه موسیقي زنداباد
یاره خبرې د لالي زنداباد

هغه سړي ته ښځه نه رسیږي
وایي چې بس مجردي زنداباد

ستا په خانۍ څه کوو اور دې واخلي
زمونږه خپله غریبي زنداباد

ولسمشران مې د دونیا ولیدل
زموږ بابا اشرف غني زنداباد

ښکلو ته لار نیول سترګکې کول
رښتینه دا بې ادبي زنداباد

رښتین

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن د جوړېدو هيلې مو زړه کې
يادوو يې په پنځه وخته لمانځه کې

کانې بوټي غرونه ټول به درياديږي
دومره درد وي د وطن په بيلتانه کې

که انصاف ته د انصاف په نظر ځير شو
بيا به نه وي ملنګان د چا په وره کې

دين اسلام وطن ښه امن او ښه ښځه
خوندور دي دا شيان په ژوندانه کې

ستا له لورې نه غږيز پيغام راغلی
اوس خولې يمه ربنتينه په ساړه کې

ربنتين

(c) ketabton.com: The Digital Library

تناکې وشمارئ د خپلو لاسو
حساب د سرو زرو همدې ته وایي

خپلي اوښکي وچول په خپله زده کړه
ددي ورځي یاران نلري رښتینه

ته په خپل ضد باندې ښه کلک ولاړ وې
ما سپین سترګي وکړه در وغړیدم

یاران لګیاو چې اختر کې ګرځوو
زما جیبونه تش و نه غړیدم

ته مي په کیسه کې ګوره هم نه یي
زه درپسې دول کیلو کم شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دعا کې ترې ربنتینه امن غواړم
دادې ځمه او له خدای سره غږیږم

نور دخشي ارمان نه راځي ربنتينه
خو بيرغ پاچا اردو پسي خفه يم

دردیدلي زنګ وهلي بیلتانه دي
ته يې نه منې خو زړونه مو اوبه دي

زړه تنګون لاره لمانه ورکه کړې
سختې لوبې یې شروع زما په زړه دي

دا چې خاندي درد مې ټوکې ورته ښکاري
دوی خبر زما د زړه له درده نه دي

بې ننګي ده بدرنګي ده ورور وژنه
بدبختو راګير کړي پښتانه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې سمه هديره ده خبر مشې
ارمانونه لکه مړه پکې پراته دي

څه مو تمې ترې لرلې وخ رښتينه
څه د کار خلک په خاورو کې پراته دي

دونيا او ښکلي دواړه نه خپليږي
زړه ته همدا وايم خو نه يې مني

څــه بې کار څـه د کار دي خو غدار دي
ځينې خلک ښه اوښيار دي خو غدار دي

د بـــاور كــولـــو نـــه دي ستــونـزه دا ده
كني شتــه ياران بسيار دي خو غدار دي

چې راغږيږي نه نو څه يې كوم
ستا تصويرونه خو منې نه نيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سولې ارمانجن وي ارمانجنه یاره لاړې
تنها دې مونږه پرېښوو هيله منه یاره لاړې

وخ سختې خاطرې دې راته سترګو ته تاوېږي
وخ سختې دې ګیلې یوړې غمجنه یاره لاړې

زه په خپلو اتلانو پسې ژاړم
نه دم نه په هیندو پسې خپه یم

نور د څه شي ارمان نه راځي رښتینه
خو بیرغ پاچا اردو پسې خپه یم

بنده چې ډېر درسره ځي تر هدیرې پورې ځي
خو تر جنت دې رسولای شي د خدای مینه

ګلونه ورکه مراور ښکل که
وخت مختصر دی لږ یې زر ښکل که

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسني نظام ملتيا وکړه خو
د پخواني نظام عسکر ښکل که

چې د ولس لپاره ځان دردوي
هغه پاچا هغه رهبر ښکل که

ربښتين چې کله ښښوي قبر کې
بس ته يې يو ځلې په سر ښکل که

ته تکــبر کوې خو مـوږ ستا په رقـم نه يو
تاته به کم ښکارو خو مګر دومره کم نه يو

هو له تراوسه پورې جنګ کې پيره ورونه وژنو
نه له تراوسه پورې خلاص له دغه غم نه يو

هسې چټي يو بل ته ګوتې نيسو تور لګوو
ومنئ ټول په ګډو وډو سر يو سم نه يو

اول يې ووژنو د ژوند کولو خق يې واخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم په دې خبره شر کوو چې ګرم نه يو

پريږدئ دا ښکلي چې تنها شي تکبر يې ورک شي
خپله به پوی شي چې موږ دومره محترم نه يو

هغه باقر رښتينه دا خبره سمه کړې
موږ د پنځم موسم مخلوق د بل موسم نه يو

رښتين

دلته ټول مطلب پرسته انسانان دي
قبرستانه در روان يمه ښه ډک زړه

پريږده نن خو چې ښې سمې چغې وکړم
پريږده نن خو چې مخلوقه کړمه سپک زړه

چې د خلکو بيروبار کې شي ترې لاندې
چرته لرې غورځومه په سړک زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه يې نور په لټون سترګی شومه بس دی
امکان نشته چې پيدا مې کړمه ورک زړه

اوس يې حال داسې عجيبه غونتې شوی
نه باور مني رښتينه نه مې شک زړه

ګيلې ورسره زياتې دي رښتيا درنه خپه دی
دې قام ته داسې ووايه پاچا درنه خپه دی

رښتينه ته هم ګرم يې په لالي کې مشکل نشته
پرون دې پخلا کړی و نن بيا درنه خپه دی

چې تر څو دې د زړه درد ليدلی نه وي
د رښتين په شاعری پوهيدل نشته

ګل او سپرلی بايد راوغرېږي
زما لالی بايد راوغيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اړتیا ورته بیخي ډېره ده
هغه سړی باید راوغږېږي

رښتین

نه کیږي اشنا هڅه مې کړې ده
ډېره د خندا هڅه مې کړې ده

ته مې هیرولې مګر نه کیده
هر ځلې بیا بیا هڅه مې کړې ده

سر یې ټیټ کړی و په بیړه کې ډاکټر وویل
رښتین له دغې دونیا لاړو دا یې زر وویل

لاس یې زما په لاس کې راکړ لږ یې وخندل هم
زه درنه ځمه دا یې څومره په هنر وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په تا سخته راغلي وي دوی پټ شي
دا یاران نه دي رښتینه دلاګان دي

د هغو خلکو بزرګي مې ځکه نه منله
دوی په دیوال باندې لیکلي و لیکل مکوي

هو له الف مې شروع کړي وو تر يې مې پریښول
زما یاران مطلب پرسته وو په دې مې پریښول

ځان ته مې دا ویل چې نه کیږي امکان نه لري
لوی ارمانونه و په دغې طریقې مې پریښول

تورونه شته مګر لمن نشته
هیڅ سرپرست مو د وطن نشته

ستا د همزولو لمسي هم شوي دي
رښتینه زوړ شوې ستا میرمن نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به د ډېرو خلکو خولې وتړې
بس که راوغږیدې حد به وکړې

ورته صفا وایم خو نه یې مني
قام ته رښتیا وایم خو نه یې مني

دونیا او ښکلي دواړه نه خپلیږي
زړه ته همدا وایم خو نه یې مني

بوتل ته غاړه ورکوو خو پرې اتل ووژنو
زموږ په وس کې صرف دادي چې یو بل ووژنو

مکوئ مکوئ د خدای لپاره ډېر شرم دی
ولس راشئ چې دا جیهل مکمل ووژنو

حقیقت وایمه خفه نشئ خو کیږي داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ چې پرادي کې ګټه وګورو نو خپل ووژنو

د چا ارمان وکړو د چا په بیلتانه وژاړو
څه فایده چې تمثیل وکړو یا له زړه وژاړو

هر څه مو خپله په ځانو وکړل څوک نه ګرمو
وطنه پریږده چې نارې ووهو ښه وژاړو

په خوله مې وخندل تمثیل مې وکړ
کني خراب ومه چې تلمه درنه

وژنه کیږي دومره عام مشره
نه مو خندا شته نه ارام مشره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا معاملې دې کوم رقم کړي دي
تا خو خرڅ کړي يو د قام مشره

د جهنم په اور دې خدای ج وسيزه
که دې خوړلي وي حرام مشره
منم چې دا به د جنت نه وي خو
زمونږ بيرغ د جهنم هم نه دی

ته يې په اور سواځوي نه يې غواړې
خو زما زړه ستا په رقم هم نه دی

وږي تږي يو خفګان له حده ډېر دی
دا زمونږه اخترونه دي خالقه

مونږ مړه کيږو دوی مو ناست دي تماشې ته
ددې خلکو ښنګه زړونه دي خالقه

له قيامته منکر نه يم قيامت شته خو
په مونږ دلته قيامتونه دي خالقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتین ژاړي د ولس غم پرې امبار دی
درد يې ډېر ورک يې خوبونه دي خالقه

زړې جامې به وي تنها به وم دردونه به وي
دغه اختر به هم د نورو په رقم تیر شي

حال مې نه ګوري جهان يوازیتوبه
تنهايي مې خوري د ځان يوازیتوبه

د باور کیسه مې پای ته رسولې
ته مې خوښ يې له انسان يوازیتوبه

زه پاګل يمه پاګل راپسې ژاړي
پرادي غلي دي خو خپل راپسې ژاړي

هو هغه مطلب پرسته ټول راغلي
هو رښتينه مکمل راپسې ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مې دولت پکار راغلی نه خاني تنها يم
د زړه سکون مې رانه بل طرف ته ځي تنها يم

د بنداګانو بندګي نه غواړم نه يې کووم
خالقه ته مې لاسنيوی وکړه بيخي تنها يم

وخته دا نور شيان به وروسته واخلم
اول دا ووايه ياران په څو دي

مشره په دې جنګ کې به څو وګټې
مشره دا خلک دې روان په څو دي

ربنتينه ته د زړګي درد ته ژاړه
زه او باقر به تنهايي ولمانځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې یاران منافقین وي داسې چل وکړي
لکه رنډۍ ښځه چې یو پریږدي او بل وکړي

که چیرته غلی شوې نو ومنه چې پاتې به وي
اظهار د مینې خو سړی باید اول وکړي

دلته ښکاره منافقت ته ټول چکچکې وهي
څه به توپیر څوک د اتل او د بوتل وکړي

دا ظالمان خو انسانان پریږده حیوان هم وژني
بیا به ساتنه څه د ښار او دا ځنګل وکړي

هغوی ته ووایئ چې نور دې ګلان نه ریژوي
هغوی ته ووایه چې رحم پر کابل وکړي

وخئ رښتینه چې نصیب به یې له چا سره وي
کوم بختور به یې خوبونه په څنګل وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خراب نظر څخه مننه
شر دې وکړو ستا له شر څخه مننه

دوی په ما ملګرتیا ښه وپیژندله
دمارانو له خطرڅخه مننه

وه مخلوقه زه یې پوی کړمه په هر څه
دغمونو دلبښکر څخه مننه

جوړ له درده جوړ له ډېرې بیوسۍ نه
زه د خپلو اسویلیو په رقم یم

زه ښه نه یم خو ته ښه راوغږېږه
درد خراب کړمه د زړه راوغږېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې زه تږی یمه دومره دومره دومره
ته اوبه اوبه راوغږیږه

که زه خبر واي چې بې مرګه به مرم
قسم په خدای که درکتلي مې وای

ستا بنده ګانو ته د سوال نه مخکې
زهر ډیر ښه و چې خوړلي مې وای

هغه چې تلل رښتینه نه تم کیدل
که مې ځان مړ وای یا ژړلي مې وای

د بې وسۍ تر ټولو لویه ګټه
یاران ماران په سړي وپیژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ وهليه ښاره ته يواځې نه يې
زه هم دا رقم ته يمه لکه ته

د يارانو تلل په حقه دي رښتينه
ملامت زه يم جيبونه زما تش دي

په خوله مې وخندل تمثيل مې وکړ
کني خراب ومه چې تلمه درنه

ماته دې لالی په قرض را وخاندي
شل زره دينار راپسې وليکئ

ما په خپل وجود ظلمونه کړي دي
زرکوئ ازار راپسې وليکئ

حوصله نلرم د سوال او ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاسې لږ غلي شئ ما مه غږوئ

شاتې به وکړي په تارو کې ګوتې ولې وهې
لرې زمـوږ په پرهــرو کې ګوتې ولې وهې

د وصال شپه نه زه غواړم چې زر ویده شم
ته مې لالیه په ویښــتو کې ګوتې ولې وهې

تاسره نشته روفۍ پریږده چې دوی یې ورکړي
رښتینه هسې په جیبو کې ګوتې ولې وهې

د سګرټـو راکولـو ولا ډیـر وو
خو چې ومې غوښته وینه یاران نه وو

بس پوښتنه رانه مکوئ دسخت ژوند
که خبره وکم سپینه یاران نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړم ځان سره مې بس خاورو ته يوړه
ويشوله مې چې مينه ياران نه

چا پوښتنه وکړه ما هم ورته ووې
هو ناريې وي لونګينه ياران نه وو

په اتڼ کې راسره وو ښه بيشماره
خو په سخته کې رښتينه ياران نه وو

نه له زړه کـوي او نه په ښو نيتـونو کيږي
دلتــه اکثـره ملګـرتيــا په کاغـذونو کيــږي

هلته نا پاکه ډمه هـم خلکو ته پاکه ښکاري
دلتـه نيـوکه په سپـــيڅلو کـتابونــو کـيږي

خلک يې تول مني چې لور خرخول نده روا
خو بيا هم وياړ په دې روانو رواجونو کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیـــــنه نشته د واده خبرې غلی کیـــنه
حالات خراب دي خوب په کلکو بالښتونو کیږي

رښتینه هیچاته مې حال د زندګۍ ونه وې
ما په یوې مسکه پنځه سوه غمونه پټ کړل

وخت مې غږ نه اوري او منډې وهي
زه لیـونی یم د ساعت ســتن ماتوم

په ملګرتیا کې د یارانو سره چل مکوئ
ګناهنـــګاریږئ دا کارونه مکـمل مـکوئ

که مو ترپایه رسولی نشوه خولې ونیسئ
د محبـــت اظهـار د چا سره اول مکوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو خلــکو بزرګي مې ځکه نه منلـــه
دوی په دیوال باندې لیکلي و لیکل مکوئ

نه نه نه نده پکار ډېر پام کوئ وه مخلوقه
مینه د یو بل سره وکړئ خو وژل مــــکوئ

ربښتینه دوی ته داسې ووایه د خدای لپاره
ګټه یې نشتــــه غیبـتونه د یو بل مکوئ

پریږده استاذه نور یادونه د بدرنګ نه غواړم
په کتابونو کې خبرې زه د جنګ نـه غـواړم

مکتب ته لاړ شه مدرسې سره هم مینه ساته
ربښتینه زه د قلم څوکې نورې زنګ نه غواړم

ربښتینه څوک که کیسه سپینه وکي څنګه به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل وطن سره که مینه وکـي ځـنګه بـه وي

غم بیخي لکه تنبل شاګرد ربنتینه
ښه بیکاره دی خو بیا هم خاضریږي


زه به درته خپل دردونه ووایم
راسه ددي ستړي ژوند لیکوال مي شه

خپه کیږي به څوک ځنګه نه ربنتینه
چي کرلي دي ګلان وي ټول ازغي شي

ربنتینه هرڅه یي ښه ډیر بي اندازي راکړه
زه یي استاد کړمه درسونه زماني راکړه

پاي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت الله ربنتین




تاج محمد مبین

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Facebook**

**https://www.facebook.com/profile.php?id=100050732440633**

**WhatsApp & call**

**0703915972**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**